# دسیاستدانانو شامت

شیخ ډاکټر عبد القادر الصوفي

مایوسه امریکی صدر په باسکیټبالی چال سره د مائیکروفون په طرف په تیزی سره راو ژاندی شو۔ او یو مجرم د تفتیش دکمرے نه دراویستلو لپاره ئي په خپلی دمعمول مطابقے ربطه اعلامیه سره جنرل میک کرسټل د افغانستان د فوجی قیادت نه معزول کړو۔ لیکن زه وایم چه په حقیقت کی هغه مستعفی او دست برداره شوی۔ د دنیا هر سړی ته او په طورِ خصوصی هر امریکايي ته داخبره معلوم ده چه هغه د مخکی راسی داعزم مصمم کړی وو۔ دا غیردانشمندانه فوری عمل نه وو۔ بلکه په ډیر احتیاط سره دیو ماهر په لاسو بنا شوی پلان وو۔ هدف ئي دا وو چه د جمهوری نظام په ناکامی باندی پرده واچوی۔ او جنگ ته په باعزته او باثبوته طوگه دوام ورکړی۔

تاسو د یو ساعت لپاره سوچ او کړی چه دا سړی دفرانس دے چاره صدر اعظم سرکوزی په شان مسلسل مونږ ته دا یاد دهانی کوی چه هغه صدرِ مملکت دی۔ او په خپلی کارکردگی سره هم ددی ظاهر اول کوشش کوی ۔ په دی موقعه هغه اعلان اوکړه چه دی نه صرف مونږ ته بلکه خپل ذات ته هم دا یقین دهانی ورکوی چه در اصل هغه بذاتِ خود کمانډر ان چیف دی۔ډیموکریټکه سیاست دانان په دی مجموعی فریب کی غرق دی چه دلوی مسافته نه جنگ جاری ساتلی کیدی شی او هغوی لپاره میدانِ جنگ ته تلل ضروری نه دی۔ او هم دغه شان دغمزپلی والدینو دغیظ و غضب نه به هم دا بزدلا سیاست دانان محفوظه شی ۔ د پارټی سره وفاداری لرونکی هر سیاستدان دا حال وی۔ محاصره شوی روسی خار سټالن گراډ دجهنم زار میدانِ جنگ نه یو قوماندان دجرمن جرنیل هټلر کوم چه دجرمنی خار برلن کی په یوه محفوظه زیر زمینی سنگر کی ناست ته یو لرزه خیزه ټیلی گرام راولیگه : زه خو میدانِ جنگ کی یم ته کوم زای کی يي ؟۔

په حقیقت کی دا په بهادرئ سره جنگیدونکی فوجی پیغام وو کوم چه د میدانِ جنگ نه په واپسی هغه پژمرده مخ والا سیاست دان سره مخامخ کیده کوم چه میدان جنگ ته د تلو په ځائے محض د ټیلی ویژن دکیمرے په ذریعه جنگ جاری ساتل غوستل۔

که چرته په عالمی سطحه باندی د سیاسی طبقے د انحطاط دور دوره نه وه او د انسانی صبر وتحمل پیمانه لبریز شوی نه وه نو دا فرمان به مطرح شوی وو چه دا عمل دی لازمی اوگرزولی شی چه کوم وخت هم اعلانِ جنگ اوشی په هغه وخت کی صدر مملکت او وزراے مملکت باندی بنا شوی کامله مجلس عامله دی محاذِ جنگ ته روان کړی شی او جنگی کاروائی کی به په عملی طوگه حصه اخلی۔ په دی عمل سره به مونږ د امن په ژوندو گزران کی داخل شوو۔

دوی به په هیڅ وخت کی هم د دشمن پر ضد عملیات او نه کړی ۔ د هغوی د جنون یوه حصه دا ده چه هغوی میدانِ جنگ ته نوجوانان د قربانی دپاره روانه وی او هغوی دا گنړی چه دا زمونږ جنگ دی ۔ په

نفرت انگیزه انداز کی سترګی خوزونکی د برطانیې پریمیئر د ''عراق جنګ'' په دوران کی ''زما فوج''والا دعوی کړی وه کوم چه خپله صدر مملکت هم نه وو۔

په داخل کی سیاسی نظام د خپلی بد حالی ښکار دی ۔او په ظاهره کی د امریکی صدر اعظم علی الاعلان دا خبره کوی چه د هغه په خیال کی د پټرولو د شرکت بی پی نه دی چیف ایگزیکیټو آفیسر دی معزوله کړی شی ۔ هغه مزید اووی چه په دغه مجرمه ټولی باندی په خلیج کی د حالاتو د برقراری لپاره د رکاره هر ډالر اَدا کول واجب دی ۔

که دا خبره ریښتیا وی ، نو بیا خو شاباس۔ آیا دا لوی کارپوریشنونه او کنسورشیمونه د جناب صدر د فرمان تابعه دی؟ او که حقیقت دا وی نو په ضمانت آزاد شوی بانکونونه دی د مغبون خلقو هغه غائب شوی په اربونو ډالر واپس کولو د یقین دهانی فرمان دی جاری کړی شی؟، لیکن هغه ته خومحض د کمانډر ان چیف د جوړیدو اختیار حاصل دی ولی چه هغه ته د انسانانو ژوند سره د لوبو کولو اختیار حاصل دی ۔ لیکن د خلقو د دولت سره د لوبی کونکی بینکونو یا بینک کارانو د معزولو کولو لپاره د حکم جاری کولو مجاز نه دی۔

پهٔ اعتدالی کی مبتلا سکریټری آف اسټیټ په شان معامله کونکی وائس پریزیډنټ او سابقه اسرائیلی بیلے ډانسر چیف آف اسټاف په ملګرتیا کی دا د خیرانتیا خبره نه ده چی هغه د واشنګټن له طرف په همالیه کی اعلان شوی جنګ د نظم وضبط سنبهالول نه لاچاره شوی۔

چار ستاره بې نامور جرنیل لپاره دا د خیرانتیا خبره نه وه چه سیاسی طبقه د هغه د کارکردګی په لاره کی خلل جوړه شی ۔ هغه ددی خبری سره آشنا وو چه د جنګ واګی د هغه د لاس نه اخیستی شوی ، او عوام الناس په تیارو کی ساتلی شوی دی ۔ د افغانستان د جنګ حقیقت سه دی؟ کوم چه یو معروفه فوجی قائد د جنګی حقیقت سره آشنا کړو۔ او حقیقت دا دی چه مونږ د یو سرمایه دارانه نظام په ابتدائی مرحله کی داخل شوی یو ۔ کوم ته چه د پرائیویټ میلټری سوسائټوں ضرورت دی ۔ عالمی طور باندی ا وس هغوی په لکونو خلق بهرتی کوی ۔ او په مجموعی طور باندی په دنیا کی دا دویمه ټولو نه د لوی فوج نمائندګی کوی۔ هر کال یو سل اویه بیلینه یورو دا دی مقصد لپاره مصرف کولی کیګی ۔

ژومبنی فوجی پرائیوټ یونټ ۱۹۸۹ کی په وجود کی راغلی وو ۔ دا دی غړی سابقه جنوبی افریقه کمانډوز وو کوم چه په انګولا کی د روسیانو پریخودی شوی فوجی مرکز کی تربیه شو ۔ایګزیکټیو آوټ کمز کمپنی د مشکلاتو سره مخ شوی افریقای دولتونو په هر جائزه او ناجائزه طریقه د دهشت ګردی سره مقابله کولو لپاره خپل خدمات پیش کړی وو۔ دغه شان دی شرکت په حقیقت کی د فوجی کاروائیوں دا ژومبنی پرائیوټیزیشن نمائندګی او کړه۔

وړاندی په امریکه کی ایم پی آر آئی (میلټری پروفیشنل ریسورسیز انکارپوریشن) په وجود کی راغی۔ دا د ۱۹۹۰ خبره دا ۔ د امریکی عسکری قوتو سره مکمل مربوطه سابقه روسی بلاک والا ملکونو ته خپل خدمات ژاوندی کړه۔ او د هغوی عسکری استعداد ئې د ناټو په ساویه راسول ئې یقین کول۔مونږ د کنټریکټرو (سروس پرووائیډر) په دور کی داخل شوی یو۔ ۱۹۹۱ په دوران کی په ژومبنی خلیجی جنګ کی د سلو فوجیا نو په مقابله کی یو سیویلین کنټریکټر وو۔ ۲۰۰۳ کی د عراق حملے په دوران دا تناسب یو په لس شو۔ ۲۰۰۷ کی په ژومبنی نومره باقاعده د فوجیانو او کنټریکټرانوں تناسب برابر شو۔

دد غې کا ل په ۱۶ ستمبر په موقعه باندی د بلیک واټر په نوم غټه پرائیویټ میلټری سوسائټی د

بغداد ښار په وسط کې په یو ګاډي باندې د ټوپک د ګولو باران اوکړو او اویه کسان یې ووژل ـ د عراق نه د راوتلو نه پس هغه د ـ ذي سرویسیز ایل ایل سي ـ په نوم سره مشهوره شوه ـ او سردست په افغانستان کې د امریکایي مفادو په خاطر کار کوي ـ په ۳۰ دسمبر ۲۰۰۹ کې د افغانستان په صوبه خوست کې د امریکې فوجي مرکز باندې د حملې په دوران ددې د سټاف دوه کارکن قتل کړې شوو ـ په پاکستاني سرحدونو باندې موجود کنټریکټرو د خپل مرکز نه د بې پائیلټه طیاره ډروونز په ذریعه د پاکستاني قبائلي علاقوں باندې حملې کوي ـ دا ډروونز د خپلې نښانو نښان دهې کوي او بیا عسکري قوات په هغې د توغندو حملې کوي ـ ۲۰۰۸ نه ۲۰۰۹ پورې د په پاکستاني حدودو د حملو تعداد د شپګ دیرشو نه درې پنځوسو ته اورسیده ـ

۲۰۰۹ کې د کانګرس شائع شوې رپورټ موافق پینټاګون یو لاکھ سلور زره او یو سل عام ښاریان ددې مقصد لپاره بهرتي کړې ـ په دې دوران کې د عسکرو تعداد دریے شپیته زره نهه سو او پنځوس شو ـ هم دغه شان د امریکې دفاعي فوج په ذریعه بهرتي شوي دواشپیته فیصد کسانو تعلق ددې پرائیوټ سیکټر سره دې ـ ددې په شان د فوجیانو تعداد د ۳۰ زرو فوجیانوں اضافے مطلب شپګ پنځوس زره کنټریکټرانو زیاتول دي ـ او هم دغه شان دهغوی تعداد هم زیات شو ـ

د کنټریکټر کار د مقبوضه ملک انتظامي امور سنبهالول دي ـ ولې د منطقے کنټرول او عسکري عملیاتو کې مداخله ددې د دائرۂ اختیار نه باهر وي ـ نو دا محض سرمایه دارانه پروګرام د امریکې د جرنیل د عزت او فوجي روایت ته د نقصان سبب جوړ شو ـ

کنټریکټرو د عامو خلقو د بهبود ټول میدانونه په خپل کنټرول کې اخیستي ـ په کوم چه هاؤسنګ، ساپورټ سپلائنګ، انټرنیټ کنیکشنز، کهانے، انټر کمیونیکیشنز، ائیریل سرویلنس، اینټي ډرګ اسکیم، افغان ګورنمنټ فورسز، نیټو پلانز ـ او هم دغه شان ۲۰۱۰ پورې د افغان فوجیانو تعداد د نهو زرو نه تر ی لاکھ سلور دیرش زرو پورې او ۲۰۱۳ کې د دوه لاکھو سلو یختو ز رو پورې به زیاتول ددې په دائره ہائے کار کې دي ـ د افغان عسکرو د تربیت ذمه چا سره دا؟ هغه د کے بي آر کے او ډین کورپس سره ده ـ او موخر الذکر شرکت د حامد کرزئي د صدارتي محافظو ټولې کنټروله وي ـ

ایم پي آر آئي د افغان میلیټري فوجي تربیت کوي ـ او دهغې لیډر شپ متعین کوي ـ دا کنټریکټ د دواو سو میلینو ډالرو دی ـ د بلیک واټر یو سسټر ګروپ پاره ونټ دي چه افغان پولیس کنټروله وي چه د هغوی شمار نه به یو لاکھ شپیته زرو ته رسوي ـ

په دې موضوع ماهر اسکالر جارج هینري بریسټ ډس ویلنس مطابق د قندهار سابقه والي ګل آغا شیرزئي هغه شیرزئي سوسائټي هم ددې حصه ده ـ د بریسټ ډس ویلنس مطابق موجوده امریکایي حکومت داخلي نظام د کنټریکټرو شرح اموات په سرکاري اعدادو شمار کې یوزیي کول نه غواړي ـ ددې مطلب دا دی چه دا پرائیویټ پیرا ملټریز د افغاني او فوجي قوانینو نه بالاتر دي کوم ته چه په قانوني طور آؤټ لاز (د قانون نه بالاتر) وئیلې کیګي ـ ناټو د هغوی د سرکاري ذمه دارو خیال ساتي ـ نیټو په خپله یو داسې تنظیم دې کوم چه په خپله اعلان شوي اعلامیه مطابق د هر قسمه ملي یا بین المللي عدالت ته نشي راغوستلې کیدې ـ نن هغه په بې دردې سره د افغانانو په ضد جنګ کوي چه یو طرف ته د منشیاتو کاروبار او بل طرف ته فحاشي او حیا باخته کارونو ته فروغ ور کوي ـ موخر الذکر یو پیش رفت کونکې تجارت دې؛ کوم چه دهغوی روایت غمازي هم کوي ـ

ددی حالاتو د اقتصادی منطق تقاضاده چه کنټریکټران یو طویل المیعاد مدی پوری د خپلی سرمایے استثمار اوکی۔ نو په دی سره دناټو د یو ملک نه د برائے نام د وتلو دعوے ته مزیدتقویه ورکوی ۔اوس د پیشه ورانه عسکرو مخی ته لرزیدونکی ناټک بوتو والا پریزیډنټ ته وائیلی شوی دی چه د ممتاز عسکری قوماندان معزولی ضروری دا چه د پی پی د بحران سره متعلقه سیاسی الزاماتو نه د بچ کیدو لا ر بیا موزی ۔ آیا هغه د عسکری فلسفی په بنیاد معزوله کړی شوی ؟نو بیا دسیاسی جمهوریت د بقا امکانات په نظرراتلی شی ۔ هټلر د خپل سیاسی خطر په سبب رومل هلاک کړی وو۔ چرچل د دوئیم جنګ عظیم معروف ترین فوجی ایرل ویول قتل کړی وو ؛ ولی چه ملک د داخلی سیاسی بدنظمی کی مبتلا وو۔ ټرومین د میک آرثر قتل د ملک دننه د لاقانونی له سببه عملی کړو۔ او هغه د عسکری فتح په ځائے دنیا ته د کمیونسټ نارتھ کوریا او نیوکلیر بم تحفه ورکړه۔

بش خپل وزیر خارجه پاول په واسطه په سیاسی میدان کی په دروغ وینه بدنام کړو ۔ اوس یو مکمل نا اهل، غیرتعلیم یافته ، غیر موزوں سیاسی صدر یو انتهائی مشهور جرنیل د خپلے عهدے نه معزوله کړو ۔ په زرګاوو کیلو میټرو په مسافه موجود دا محض په نوم کمانډر دیو دلسے نفر نه نجات بیامونتی کوم چه دا محسوسه کړی چه امریکه ناکامه شوی ده ۔ اوهغه عوام الناس ته عمداً دا موقعه ورکړی چه دا جنګ حقیقی جنګ نه دی بلکه د کارپوریشنو د سرمایه دارئ مهم دی ۔ اوس امریکه په ایشیا کی په آخری موقعه د خپلو پنجو په سوکو باندی ولاړه ده او ایشیا ته مزید ددی ضرورت نشته ۔

ممتاز جرنیل خو په خپله د میدانِ جنګ نه واپس شو ۔

جنګ اوس ختم دی ۔ او محض بے فائده خون خرابه به دوام لری ۔